مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب الله پتمن ۲۰۲۱/۰۱/۱۸

# ولې زه په ویتنام کې د جګړې مخالف یم؟

## ،،یو وخت به راشي چې چوپتیا به خیانت ګڼل کیږي.،،

غواړم په پیل کې دا روښانه کړم چې دا جګړه درغلي، له شره ډکه او عبث جګړه ده. زه نن پدغه کلیسا کې د ویتنام د جګړې پهتبلیغ سره دا جګړه غندم. زما وجدان ماته اجازه نه راکوي چې بل څه غوره کړم. اوس ددی وخت رارسیدلی چې د امریکا د غمجنیجګړې په اړه دحقیقت غږ جګ کړو او واکمنان ورته غوږ شي.

په نړیوالو جګړو کې رښتیا ویل خورا ګران کار دی، ځکه چې ډیر ملتونه د ځان په اړه غولیدلي دي.
عقلاني سوچ کول او د بلا سپر لپاره پرله پسی هڅې په رواني توګه موږ په لوی ابشار کې خپلو ګناوو ته په ړندو سترګو ګورو.مګردا پوچ وطندوستی نده. هر هغه څوک چې له درواغو سره ژوند کوي ، دوی په روحانی غلامی کې ژوند کوي.

آزادي لا هم یو بخشش دی چې د حقیقت ویلو لپاره راکول کیږي. " تاسو باید په حقیقت پوه شئ "
حقیقت به تاسو آزاد کړي، ما غوره وګڼله چې د ویتنام جګړې په اړه تبلیغ وکړم ځکه چې زه له دانتهDante سره همغږی یم چې ترټولو سوځونکی ځای په دوزخ کې د هغو کسانو لپاره ساتل شوی چې د جګړې د اخلاقي بحران په منځ کې بی طرفه ولاړ وی. یووخت به راشي چې چوپتیا به خیانت ګڼل کیږي.

په حقیقت کې پدغو خبرو کی هیڅ شک نشته، مګر دوی موږ ته وایي چې دا خورا ستونزمن ماموریت دی. حتی د کور دننه دحقیقتتر فشار لاندی، خلک د خپل حکومت د پالیسیو سره د مخالفت کولو مسولیت ته زړه نه ښه کوي، په ځانګړی توګه د جګړې په وختکی.

دانسان اروا له سترو ستونزو سره په خوځښت راځی، بی عاطفه توب زموږ په سینو کې کله چې د ډارونکی جګړې په منځ کیګنګس او اریان ، د مقناطیسي خوب د شک په ځنډه ولاړ یو.

مګر موږ باید وخوځیږو، ځینې کسانو لا د مخه چوپتیا ماته او په خبرو کې د جګړې د درد او رنځ د پای لپاره بلنه ورکوي. موږ باید غږپورته کړو. موږ باید په خاکساری غږ جګ کړو او خوشاله هم اوسو. ځکه دا زموږ د لرلید لپاره په مشروط توګه مناسبه ده. ځکه دامریکا په تاریخ کی هیڅکله د جګړې په منځ کې داسې یادګاري مخالفت نده شوی.

اوس ددی وخت رارسیدلی چې د امریکا د خلکو په وجدان غږ وکړو چې بیرته کورته راشئ.
عمر خیام رښتیا ویلې دي: " خوځونکې ګوته لیکل کوي او لیکلي حکم ته دوام ورکوی "

زه نن دواشنګټن پر واکمنانو غږ کوم. زه د امریکا د ښه نیت په هر نارینه او ښځه غږ کوم. زه د امریکا په ځوان نسل غږ کوم. چې دجګړې او سولې په اړه خپل دریځ معلوم کړي. بیا به ډیر ناوخته وی، کتاب به وتړل شی. هیچا ته اجازه مه ورکوئ په تاسو باندیخپل فکر وتپي او ومني.

امریکا آسماني مسولیت نه لری چې د نړیوال پولیس دنده تر سره کړی. خدای د هغو ملتونو د کړنو په اړه قضاوت کوي چې خپلبرخلیک پخپله ټاکی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نن امریکا ډیره مغروره ده ! که خپله لاره بدله نکړی نو زه به راپورته شم او د ځواک ملا به ماته کړم او زه به یې د داسې قوم پلاسکې ورکړم چې زما نوم هم نه پیژني. تاسو ارام اوسئ او پوه شئ چې زما نوم خدای دی.

موږ به بریالي شو ځکه په انجیل کی وایي: "څه چې کري هغه به ریبي."پدی عقیده سره به د غرونو لوړې څوکې اوبه شي او پدیباور به د جګړو ناخوالي د وروری په ښکلی سندره بدل شی. پدی باور به یو ځل بیا عدالت د رنو اوبو په څیر په ویالو کې پهخوځښت راشي.خلک به یو له بل ویره نه کوی او د خدای په ژبه به خبرې کوي.
بالاخره په پای کی به آزاد یو، پایله به آزادي وی.

سړی به له خپلې توری د یوی کره کی او له خپلی نیزی د ښکلا کړی جوړې کړي. او ملتونه به د یو بل پر ضد نه راپاڅیږي . نوربه خلک د جګړو هنر نه زده کوی.

موږ د ویتنامیانو دوه نازولې ښسټونه وران کړل : کورنی او کلي
موږ د دوی ځمکې او کروندې له منځه یوړي. موږ ددی ملت له غیر کمونیستي انقلابي ځواکونو سره مرسته وکړله چې بودایيځایونه ونړوي. موږ د سیګون د بزګرانو د دښمنانو ملاتړ وکړ. موږ د دوی ښځې او ماشومان په فساد ولړل او نارینه مو ووژل.

ما اوږد ، ستړی او سخت ماموریت تر سره کړ هغه قانونچې په عامه ځایونو کې لکه هوټلونه، پارکونه ، بسونه او ښونځیو کې نژادي ډلې په زورهیو له بل جلا ساتلی له منځه یوسم. دا زما ژوره اخلاقي اندیښنه وه او لدی پرته عدالت بی ګټې مقوله ده.

په هر ځای کی بی عدالتي هر چیرته عدالت ته ګواښ دی او زه چې هر چیرته بی انصافي وینم، زه د هغه پر ضد دریځ غوره کوم،که دا مسیسپي او یا ویتنام کې وي.

پای

اپریل 30, 1967
نیویارک
مارتین لوتر کینګ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ